# د بشري حقونو نړيواله اعلاميه

د 1948 زيږديز کال د ډسمبر د لسمې
مصوب
(1327/9/19 لمريز کال)
دملګروملتونو دسازمان عمومي ټولنه

## سريزه :

څرنګه چې دبشري کورنۍ دټولو غړو د ذاتي کرامت او د دوي د برابرو او نه بېليدونکو حقونو پيژندل په نړي کې د سولي، آزادۍ او عدالت بنياد جوړوي؛

څرنګه چې د بشري حقونو له پامه غورځول او دهغوي سپکاوي دداسي ناوړه او وحشيانه اعمالو لامل ګرځي چې دانساني وجدان بېحرمتي ګڼل کيږي او هغي نړي ته رسيدنه چې انسانان په کې بې له ويرې اونيستي وکړاي شي دبيان او عقيدي له آزادۍ ګټه واخلي، دبشر دخورالوړو ارمانونو په څير اعلام شوي دي؛

څرنګه چې د ظلم او جبر په مقابل کې د وروستۍ وسيلي يعني بغاوت کولو څخه د انسان د ژغورلو لپاره دبشري حقونو ساتل د قانوني حاکميت په مټ اړين شمېرل شوي؛

څرنګه چې د ملتونو په منځ کې د دوستانه اړيکو د ودې هڅول او پراخول ضروري دي؛

څرنګه چې خلکو او ملګرو ملتونو د همدې سازمان په منشور کې د بشر د بنيادي حقونو، دانسان پر کرامت او ارزښت او دښځي او نارينه د برابرو حقونو په اړه خپل باور بيا تاييد کړی او پريکړه يې کړې ده، چې ټولنيزې ترقي او د ژوند غوره معيارونو ته په پراخه آزادۍ کې وده ورکوي؛

څرنګه چې دملګرو ملتونو غړيو هېوادونو ژمنه کړې ده چې ددې سازمان په همکاري به په نړيواله کچه، بشري حقونو او بنيادي آزاديو ته په درنښت او دهغو په څارنه کې زياتوالي راولي؛

څرنګه چې ددې حقونو او آزاديو په وړاندې ګډ پوهاوي او پوهېدل ددې ژمنې دترسره کولو لپاره ډېر زيات اهميت لرونکي دي؛

نو ځکه اوس دملګروملتونو عمومي ټولنې (اسمبلې) دبشري حقونو دغه نړيواله اعلاميه خلکو او ملکونو لپاره دبرياليتوب ديوه ګډ معيار په توګه له دې هدف سره اعلاموي؛ چې هر فرد او دټولنې هر غړی په پرله پسي ډول ددې اعلاميې په پام کې نيولو سره بايد دښوونې، روزنې او زده کړې له لارې هڅه وکړي، چې دغو آزاديو او حقونو ته دې درناوي وده وکړي او د تدريجي او مترقي اقداماتو په مټ، ملي وي او که نړيوال، دهغې دبشپړه او اغيز ناکه پيژندنه او څارنه هم پخپله دغړيو هيوادونو دخلکو او هم د

هغو سیمو دخلکو په منځ کې تامین او تضمین کړي، چې د دوي دقانوني صلاحیت په حدودوکې اوسي.

## لومړي ماده

ټول انسانان آزاد پیدا کیږي او یو ډول حقونه، عزت او کرامت لري. انسانان په عقل او وجدان سمبال شوي او باید یو له بل سره د ورور ګلوۍ په روحیه چلند وکړي.

## دویمه ماده

هرڅوک پرته له دې چې هر ډول توپیر څخه لکه نژاد، رنګ، جنس، ژبه، دین، سیاسي یا بله نظریه، ملي یا اجتماعي منشا، دارایي، د زیږیدني یا بل موقف په نظر کې ونیول سره، دټولو هغو حقونو مستحق دي، چې په دي اعلامیه کې راغلي دي.

## دریمه ماده

هر څوک د ژوند آزادۍ او ځاني خوندیتوب حق لري

## څلورمه ماده

هیڅ څوک په مریتوب یا د غلام په حیث نه شي ساتل کیداي، مریتوب او دغلامانو پیرودل او پلورل باید په ټولو بڼو کې منع شي.

## پنځمه ماده

هیڅ څوک باید شکنجه نشي، او نه په ظالمانه او ناانساني توګه سپک شي او یا سزا وویني.

## شپږمه ماده

هر څوک حق لري، هر چیرته چې وي، دهغه حقوقي شخصیت د قانون په وړاندې دیوه انسان په څیر وپیژندل شي.

## اوومه ماده

ټول خلک دقانون په وړاندې يو برابر دي او ددې حق لري، چې دهر ډول تبعيض نه پرته په برابره توګه د قانوني ملاتړ مستحق وي، دوې حق لري چې د هرهغه تبعيض په وړاندې چې اعلاميه نقضوي او يا دهغې لمسونې په مقابل کې چې داسې تبعيض ته لمن وهي په برابره توګه وساتل شي.

## اتمه ماده

که دهرچا په اساسي حقونو، چې د اساسي قانون يا دکوم بل قانون لخوا پېژندل شوي وي، تيري وشي، دي حق لري، چې دصلاحيت لرونکو ملي محکمو په مټ دتلف شويو حقونو موثره تلافي ترلاسه کړي.

## نهمه ماده

هيڅ څوک په خپلسر توقيف، بندي يا تبعيد کيداي نشي.

## لسمه ماده

هرڅوک په مساويانه ډول حق لري، چې دعوه يې ديوې بې طرفي او مستقلې محکمې لخوا په ښکاره او منصفانه توګه ترغور ونيول شي او دغه شان محکمه به د ده په حقونو او وجايبو او هغه الزام په باره کې پريکړه کوي، چې په ده لګول شوي وي.

## يوولسمه ماده

1. په جرم تورن شوي هر فرد حق لري تر هغوي بې ګناه وګنل شي، چې جرم يې په داسې يوه ښکاره محاکمه کې ثابت شوي نه وي، چې تورن پکې دخپل دفاع لپاره ټول ضروري او رسمي تضمينونه، ونلري.
2. هيڅ څوک د داسې اعمالو ترسره کولو يا نه کولو په وجه محکوم کيداي نشي، چې د اجرا کيدلو په وخت کې د ملي يا نړيوال قانون له مخې جرم نه شميرل کيده، دغه راز هيڅ څوک ديوه جرم دکولو

له امله، له هغه سخته سزا نه ويني، چې دجرم د اجرا کيدو په وخت کې دهغه جرم لپاره تعيين شوي وي.

## دولسمه ماده

هيڅوک دچا په محرميت، کورنۍ، کور يا ليکونو کې دخپلسري مداخلې حق نلري او نه يې پر نوم او حيثيت تعرض کيداي شي. هر څوک ددې ډول حملو يا مداخلې په مقابل کې دقانوني ملاتړ حق لري.

## ديارلسمه ماده

1. هر څوک حق لري چې دهرهيواد په دننه کې ازادانه تګ او راتګ وکړي او د استوګنې ځاي انتخاب کړي.
2. هرڅوک حق لري، چې دخپل هېواد په ګډون هر هېواد پريږدي او يا خپل هېواد ته راستون شي.

## څوار لسمه ماده

1. هر څوک حق لري، چې دځورونې او تعقيب په وړاندې په نورو ملکونو کې دپناه په لټه کې شي او په نورو هيوادونو کې پناه واخلي.
2. له دغه حق څخه په هغه وخت کې ګټه نه شي اخيستل کيداي، که چيرې تعقيب دغير سياسي جرم او يا دداسي اعمالو د ترسره کولو له امله وي چې دملګرو ملتونو له موخو او اصولو سره توپير ولري.

## پنځلسمه ماده

1. هر څوک د تابعيت حق لري.
2. هيڅ څوک بايد له خپل تابعيت څخه محروم نه شي او نه يې بايد دا حق باطل شي، چې خپل تابعيت ته تغيير ورکړي.

## شپاړلسمه ماده

1. ټول بالغ نارینه او ښځینه له هیڅ ډول محدودیت پرته لکه نژاد، ملیت، تابعیت یا مذهب حق لري چې واده وکړي او کورنۍ تشکیل کړي. دوې ددواده کولو پر وخت او دهغه په فسخ کولو کې یو ډول حقونه لري.
2. واده یوازې په هغه وخت کې کیداي شي، چې ښځه او میړه دواړه خپله بشپړه خوښه او رضا ښرگنده کړي.
3. کورنۍ دټولنې طبیعي او بنیادي واحد دي او حق لري چې د دولت او ټولنې لخوا یې ملاتړ وشي.

## اولسمه ماده:

1) هرڅوک په ځانګړې او یا ډله ییزه توګه د مالکیت حق لري.
2) هیڅوک باید په خپلسري ډول د مالکیت له حق څخه بې برخې نشي.

## اتلسمه ماده

هرڅوک دفکر، وجدان او مذهب دآزادۍ حق لري. په دې حق کې هغه آزادۍ شامله ده، چې خپل مذهب یا عقیدي ته تغییر ورکړي او دغه راز هغه آزادي، چې یوازي یا له نورو سره په ګډه، په ښکاره یا خصوصي ډول خپله عقیده یا مذهب په زړه، عمل، عبادت کولو او د دیني مراسمو په اجرا کولو کې ښرګند کړي، هم شامليږي.

## نولسمه ماده

هر څوک دبیان او نظر دآزادې حق لري په دې حق کې هغه ازادي شامله ده، چې بې له ویرې څخه مفکورې او نظر یې ولري او په هر وسیله پرته له دې چې سر حدونه په پام کې ونیسي، عقاید او معلومات ویلټي، ترلاسه او خپاره یې کړي.

## شلمه ماده

1. هرڅوک حق لري، چې په آزاد ډول سوله ییزې اتحادیې اوډلې جوړې کړي.
2. هیڅوک باید په دې مجبور نه شي، چې په کومې ډلې پورې وتړل شي.

## یوویشتمه ماده

1. هر څوک حق لري، چې په مستقیمه یا په آزاد ډول د ټاکل شویو استازو په مټ د خپل هیواد په حکومتي چارو کې برخه واخلي.
2. هرڅوک حق لري، چې په برابره توګه په خپل ملک کې له عامه خدمتونو څخه ګټه واخلي.
3. دخلکو اراده باید دحکومت د واک بنیاد جوړ کړي، دغه اراده باید په نوبتي ډول په رښتینو انتخاباتو کې څرګندده شي. انتخابات باید درایې ورکولو د عمومي او برابر حق له مخې وشي او باید چې د پټې رایې ورکولو او یا د رایې ورکولو د برابري او آزادې طریقي سره سم تر سره شي.

## دوه ویشتمه ماده

هرڅوک د ټولنې دیوه غړي په توګه حق لري، چې ټولنیز امنیت ولري، او دملي هڅو او نړیوالي همکاري له لاري د هر دولت د سازمان او منابعو سره سم هغه اقتصادي، اجتماعي او کلتوري حقونه تر لاسه کړي، چې د ده د حیثیت او شخصیت د آزادې ودې لپاره اړین وي.

## درویشتمه ماده

1. هر څوک حق لري، چې کار وکړي، په آزاد ډول دځان لپاره کار انتخاب کړي، د کار مناسب او عادلانه شرایط ولري او دوزګارتیا په وړاندې یې ملاتړ او ساتنه وشي.
2. هرڅوک بې له کوم تبعیض پرته حق لري، چې د برابر کار په مقابل کې برابره اجوره واخلي.

3. هرڅوک چې کار کوي، د مناسب معاش حق لري، چې دده او دده دکورنۍ لپاره د بشري کرامت وړ ژوند تضمینوي او که ضروري وي حق لري، چې د نورو ټولنیزو محافظتي وسایلو په مټ پیاوړي شي.
4. هر څوک حق لري، چې د خپلو ګټو د ساتلو په غرض صنفي اتحادیې جوړې کړي او له هغو سره یو ځای شي.

## څلیرویشتمه ماده

هر څوک د کار د ساعتونو د مناسب محدودیت او د با معاشه نوبتي رخصتیو په شمول حق لري، چې استراحت او تفریح وکړي.

## پنځه ویشتمه ماده

1. هرڅوک حق لري چې دځان او دکورنۍ دژوند کچه د سلامتیا او سوکالۍ، خواړو، کور، روغتیایي څارنو او ټولنیزو اړینو خدمتونو له پلوه تامین کړي او همدارنګه حق لري چې دوزګارتیا، ناروغي، معلولیت، کونډیتوب، زړښت او په ټولو هغه مواردو چې د انسان له ارادي بهر دي، دژوند معیشت تامین نشي کړای،باید دپتمن ژوند له شرایطو برخمن شي.
2. میندې او ماشومان د ځانګړي پاملرنې او مرستي مستحق دي. ټول ماشومان که دنکاح په واسطه او یا بې نکاح پیدا شوي وي دمساوي ټولنیز خوندیتوب حق لري.

## شپږویشتمه ماده

1. هرڅوک دښوونې، روزنې حق لري، ښوونه، روزنه باید لږترلږه په لومړنیو او اساسي زده کړو کې وړیاوي. لومړنۍ زده کړې باید اجباري وي، تخنیکي او مسلکي زده کړي باید عمومیت ومومي او لوړې زده کړې باید دټولو پرمخ د استعداد او لیاقت پر اساس خلاصي وي.

2. ښوونه، روزنه باید د انساني شخصیت دبشپړي ودي او بشري حقوقو او اساسي ازادیو ته د احترام د زیاتوالي په لوري سوق شي. ښوونه، روزنه باید دټولو ملیتونو، نژادونو او دیني ډلو په منځ کې تفاهم، زغم او دوستي پیاوړي کړي او دملګروملتونو هڅې دسولي دساتنې او پیاوړتیا لپاره غښتلي کړي.
3. میندي او پلرونه د لومړیتوب حق لري. چې د ښوونې، روزني هغه ډول انتخاب کړي، چې د دوي ماشومانو ته باید ورکړل شي.

## اوه ویشتمه ماده

1. هرڅوک حق لري په آزاده توګه دخپلې ټولني په کلتوري فعالیتونو کې برخه واخلي. له هنرونو څخه ګټه پورته کړي او په علمي پرمختګ کې شریک او له ګټو څخه یې برخمن شي.
2. هرڅوک دخپلو هغو معنوي او مادي ګټو د ملاتړ حق لري، چې دده په مټ له هر علمي، فرهنګي او یا هنري تخلیق څخه رامنځته شوې وي.

## اته ویشتمه ماده

هرڅوک حق لري په داسي یو ټولنیز او نړیوال نظم کې ژوند وکړي، چې په دې اعلامیه کې بیان شوي او حقونه او آزادي یې په بشپړ ډول عملي شي.

## نهه ویشتمه ماده

1. هرڅوک د هغي ټولني په وړاندې دندې او مکلفیتونه لري، چې دهغه د آزادي ودي او بشپړ شخصیت زمینه ورته چمتو کوي.
2. هرڅوک باید د خپلو حقونو او آزادیو په عملي کولو کې یوازې دهغو محدویتونو تابع وي، چې دقانون پر بنسټ ددې لپاره تعیین شوي وي، چې دنورو د آزادیو او حقونو ته په مناسب ډول احترام وشي او وپیژندل شي او په یوه دیموکراتیکه ټولنه کې د اخلاقي موازینو د مقتضیاتو، عامه نظم او هوسایني مراعات وشي.

3. دغه حقونه او آزادي بايد په هيڅ صورت دملګروملتونو د اصولو او موضو پر خلاف عملي نه شي.

## ديرشمه ماده

په دې اعلاميه کې هيڅ يوه فقره يا ماده بايد داسي تعبير نه شي، چې کوم دولت، ډلې يا شخص ته ددې حق ورکړي چې په داسي فعاليت لاس پوري کړي يا داسي کار اجرا کړي چې هدف يې، په دې اعلاميه کې د ذکر شويو حقونو او آزاديو له منځه وړل وي.